# د افغانستان د ۱۳۹۳ کال ملي بودجې ته خپلواکه کتنه



## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ANDS: | د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي |
| ACTA: | د افغانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف |
| ANSF: | افغان ملي امنیتي ځواکونه |
| BD: | د بودجې ریاست |
| CEDAW: | د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون |
| EPD: | د سولې او دیموکراسی د یو شانوالی موسسه |
| FS: | ژر ماتېدونکي دولتونه |
| FY: | مالي کال |
| GRB: | د جنډر د غوښتنو سره سم د بودجې جوړول |
| IBP: | د بودجې نړیوال ګډون |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون |
| IMF: | نړیوال پولي صندوق |
| JCMB: | د همغږي او څارنې ګډ پلاوی (بورډ) |
| LIC: | کم عاید لرونکي هیوادونه |
| LM: | اړوند وزارتونه |
| NB: | ملي بودجه |
| MDGs: | زریزې پرمختیایي موخې |
| MoE: | د پوهنې وزارت |
| MoF: | د مالیې وزارت |
| MoLSAMD: | د کار ، ټولنیزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| MoPH: | د عامې روغتیا وزارت |
| NPP: | د لومړیتوب ملي پروګرام |
| OBI: | د بودجې پرانستې شاخص |
| O&M: | عملیات او د ساتنې چارې |
| PEFA: | عامه لګښتونه او مالي حساب ورکونه |
| PFM: | عامه مالي مدیریت |
| PFMEL | د عامه مالي مدیریت او لګښتونو قانون |
| PFMR: | د عامه مالي مدیریت اصلاح |
| SOM: | د لوړ پوړو چارواکو ناسته |
| TMAF: | د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیز چوکاټ |
| WB | نړیوال بانک |

**اصطلاحات**

| | |
|---|---|
| عادي بودجه: | هغه بودجه ده چې له ځینو اساسي لګښتونو سره دولتي تنخواګانې ، د عملیاتو او ساتنې چارې تمویلوي. زیاتره د داخلي عوایدو له خوا تمویل کیږي. |
| پرمختیایي بودجه: | هغه بودجه ده چې پرمختیایي او د پانګوونې پروژې تمویلوي ، چې زیاتره د ډونرانو له مرستې څخه ترسره کیږی. |
| اصلي بودجه: | د عادي او پرمختیایي بودجې مجموعه ده. |
| د بودجې په ملاتړ: | د ډونرانو مرستی چی د مالیې د وزارت له لارې مصرف کیږي. |
| د بودجې له ملاتړ پرته: | د مالیې له وزارت څخه د باندې د فرعي یا دویم لاس قرار دادي له خوا د ډونرانو مرستی مصرف کیږي. |
| په بودجه کې داخل: | د ډونرانو هغی مرستی چی په کښی حکومت ته مصرفولو صلاحیت ورکړل شوی او د مالیې د وزارت له خوا مصرف کیږي. |
| د بودجې د باندې: | د ډونرانو هغی مرستی چی د مالیې وزارت نه پرته د دویم لاس قراردادی او یا ن جی او له خوا مصرف کیږي. |
| د بودجې پرانستی شاخص: | له هغې سروې څخه عبارت دی ، چې د یو شمیر مشخصو شاخصونو په بنسټ د هیوادونو د ملي بودجې شفافیت او حساب ورکونه ارزوي. |
| قطعیه: | د حکومت د مالي حساباتو نهایی راپور |
| ۲۱ کوډ: | د ملکي کارمندانو د تنخوا او امتیازاتو د حساباتو چارټ. |
| ۲۲ کوډ: | د عملیاتو او ساتنې د چارو د حساباتو چارټ. |
| ۲۵ کوډ: | د پرمختیا او پانګونې د حساباتو چارټ |

## د مطالبو فهرست


لنډيزونه ........ 2

اصطلاحات ........ 3

د مطالبو فهرست ........ 4

پېژندنه ........ 5

اجرايي لنډيز ........ 6

بودجې ته يوه کتنه ........ 8

الف. تخميني سرچينې ........ 9

۱. کورني عوايد ........ 9

۲. د ډونرانو مرسته ........ 9

ب. د ۱۳۹۳ لپاره اټکل شوي تخصيصونه ........ 10

۱. عادي/عملياتي بودجه ........ 10

۲. پرمختيايي بودجه ........ 11

د کليدي شاخصونو پر بنسټ د بودجې بيا کتنه ........ 12

الف. د توکيو د حساب ورکونې دوه اړخيز چوکاټ ........ 12

ب. له ۲۰۱۴ وروسته مالي پايښت ........ 12

ج. عامه مالي مديريت ........ 13

د. ولايتي بودجه جوړونه ........ 14

ه. د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه ........ 15

و. د جنډر د غوښتنو سره سم بودجه جوړول ........ 16

ز. د بودجې پرانستې شاخص په اړه د افغانستان دريځ ........ 16

د کليدي ونډوالو رول ........ 17

الف. د ماليې وزارت ........ 17

ب. داخلي ونډوال ........ 17

ج. باندني ونډوال ........ 18

پايله ........ 20

**پېژندنه**

پاېښت لرونکی اقتصادي پرمختګ د موثرې حکومتدارۍ تر څنګ افغانستان په لازمي ډول له لېږد څخه د مثبت بدلون په لور بیايي. ملي بودجه د اقتصادي پرمختګ په لور د یوې ټولنې په سوق کولو کې کلیدي رول لوبوي.

له دریو کلونو راهیسې ، د افغانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف(اکتا) ملي بودجه ګوري او د کلیدې موندنو او سپارښتنو ترڅنګ د هغې لنډیز خپروي. اکتا د مدني ټولنې د سازمانونو او د ټولنېزو ګروپونو او همدارنګه په ملي او د ټولنې په کچه د هغو انفرادي اشخاصو ایتلاف دی ، چې د حکومتي پالیسي ګانو او ستراتیژي ګانو د بیا کتلو له لارې د عامه پالیسي ګانو او سرچینو د شفافیت او حساب ورکونې د ترویج ماموریت لري او د خدمتونو د وړاندې کولو د سمون لپاره ملي بودجه د یوې عمده حمایت کوونکې وسیلې په څېر کاروي.
د دغې راپور ستره موخه د پوهاوي له زیاتولو سره مرسته ده. موږ هڅه کوو چې د بودجې ساده او څرګنده بیا کتنه وړاندې کړو ، څو خلک بودجه وپیژني او په دې پوه شي ، چې بودجه د هغوي په ورځني ژوند کې څه مانا لري.

دغه بیا کتنه به د یو شمېر مرستندویانو پرته نه وای شونې ؛ په ځانګړې ډول د عامې روغتیا ، د لوړو زده کړو ، کار ، ټولنیزو چارو وزارتونو او د مالیې وزارت د بودجې د څانګې څخه خاصه یادونه ې او مننه کو چی د ارزښتناکو نظریو ، معلوماتو او تجربو شریکول سره دمونږ سره مرسته کړی ده. همدارنګه د مدني ټولنې له زیات شمېر استازو په ځانګړې ډول د روغتیا او پوهنې د سکټورونو د شریکانو څخه چې د دې راپور په بداینه کې یې په مشورتې ناستو کې د ګډون له لارې مرسته کړې ، مننه کوو. برسیره پر دی د کاونټرپارټ د موسسه د مالی مرستو څخه هم مننه کوو.

د هغو شرایطو او حالاتو له امله په کومو کې چې د ۱۳۹۳ کال بودجه د اقتصادي پالیسۍ د طرح کولو هڅه کوي ، حیاتي ګڼل کیږي. د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په ترسره کیدو سره به نه یوازې سیاسي لیږد ترسره شي بلکې په ټول هیواد کې به افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي چارو لیږد هم صورت ومومي.

دا بیا کتنه د مشخصو کلیدي شاخصونو پر بنسټ ترسره شوې او د مدني ټولنې له نظره زیات شمېر سپارښتنې وړاندې کوي. په پای کې دغه راپور هڅه کوي د "ویرو" ، "هیلو" ، "ننګونو" او "برياوو" په اړه واقعي ارزونه برابره کړي.

**اجرايي لنډيز**

د عامه پالیسي وسیلې ، لکه ملي بودجه د اقتصادي پرمختګ په لور د ټولنې په سوق کولو کې مهم رول لوبوي. دغه راپور قصد لري ، چې د پارلمان غړو ، رسنیو ، مدني ټولنې او په عام ډول خلکو ته د ملي بودجې په اړه خپلواکه- مدني ټولنه-کتنه وړاندې کړي. هڅه مو کړې چې دغه راپور ساده او واضح وساتو ، څو په زیاته کچه وګړي پر بودجې پوه او د هغو سرچینو د تخصیصونو اړوند ډیالوګونو کې ښکېل شي ، چې د هغوي د ورځنی ژوند چارې اغیزمنې کوي.

دغه سند پر دریو هر اړخیزو برخو ویشل شوی. لومړۍ برخه- "بودجې ته کتنه" قصد لري ، چې د ۱۳۹۳ کال د ټولې بودجې په اړه کلي نظر وړاندې کړي. د نظر د اضافه کولو موخه موږ همدارنګه د ۱۳۹۳ کال بودجه د ۱۳۹۲ کال له بودجې سره پرتله کړې ، څو د تېر کال سترې د اشتراک او افتراق نکتې طرح او په ډاګه کړو. راپور بیا عوایدو ، تخصیصونو او لګښتونو ته په مفصل ډول کتنه کوي. راپور همدارنګه کورنیو عوایدو ، د ډونرانو مرستې او عادي/عملیاتي او پرمختیایي بودجې ته ځغلنده کتنه کوي. د راپور دویمه برخه د ۱۳۹۳ کال بودجه د یو شمېر کلیدي شاخصونو پر بنسټ تحلیلوي ، څو پرمختګ او ننګونې وپېژندل شي. په دغه راپور کې ستر طرح شوي شاخصونه د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیز چوکاټ ، له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته مالي پاېښت ، د عامه مالي مدیریت اصلاحاتو ، د عامه مالي مدیریت د نقشې اجرا ، ولایتي بودجې جوړونې ، د بودجې جوړنې پروګرام ، د جنډر د غوښتنو سره سم د بودجې جوړونې او د بودجې د پرانستې شاخص په اړه د افغانستان له دریځ څخه دي.

په پای کې ، دریمه برخه د بودجې د محتوا په نفوذ کې د مختلفو ونډوالو رول په پراخه کچه په ډاګه کوي. دغه برخه همدارنګه د مختلفو ونډوالو لپاره سپارښتنې وړاندې کوي ، څو بودجه پسې لا غبنتلې او د خلکو د اړتیاوو او د هیواد له هیلو سره سمه جوړه شي.

د ۱۳۹۳ کال ملي بودجه د هیواد د اقتصادي پرمختګ د لا زیات پراخ هدف سره طرح شوې او په عمده ډول د استخدام د فرصتونو په زیاتولو ، د ځوانانو لپاره د دندو په رامنځ ته کولو او د بې وزلۍ په کمولو تمرکز کوي. بودجه همدارنګه د لومړیتوب د ملي پروګرامونو ، په ملي کچه د ټولنې د پرمختیایي پروژو او د پروژو ساتنې ته په ځانګړې پاملرنې سره د ملي بودجې لنډ مهالي او اوږد مهالي پاېښت ته په کتو سره د سرچینو د تخصیصولو پر بنسټ جوړه شوې ده.

سره له دې چې د بودجې اسناد دا په ډاګه کوي چې بودجه د عایداتو د زیاتولو او اقتصادي پرمختګ د موخو د یوې ټولګې پر بنسټ طرح شوې ، خو لا تر اوسه هغه هدف چې په ۱۳۹۱ کال کې ټاکل شوی و ، نه دی تر لاسه شوی. له هغې وروسته ، د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ کلونو د عوایدو هدفونه بیا وکتل شول ، چې په کورنیو عوایدو کې د کمښت او د عوایدو په راټولولو کې په پراخه کچه د فساد له امله کم کړای شول. سربېره پر دغو چارو په وارداتو کې کموالی ؛ په ټیټه کچه د پانګوونې راکړې ورکړې ؛ او د یو شمېر بهرنیو کمپنیو تړل کېدو د هیواد اقتصاد او د سرچینو خوندیتوب له جدي ګواښ سره مخ کړي. د ۱۳۹۲ کال د عایداتو هدف ۱۲۴ بیلیونه افغانۍ ټاکل شوی و ، خو بیا وروسته ۱۱۳ بیلیونه افغانیو ته راکم کړای شو. نو له همدې امله په کورنیو عایداتو کې ټولټال اته سلنه(۸٪) مالي کسر رامنځ ته شو ، کوم چې په څرګند ډول د عوایدو په هڅو کې زیاته ناکامي په ډاګه کوي.

د اجرت په لګښتونو کې زیاتوالی په ځانګړي ډول د شهیدانو او معلولینو د امتیازاتو د نوي قانون په معرفي کولو سره ، پر ملي بودجې مالي فشار لا پسې زیاتوي. همدارنګه په نظامي لګښتونو کې د چټک زیاتوالی او د بودجې د کسر په تمویل کې د واټن په اړه اندېښنې د هیواد د اقتصادي پایښت لپاره ناوړه پایلې له ځان سره درلودای شي.

**بودجې ته يوه کتنه**

د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره ۷،۹۳۲ بیلیونه امریکایي ډالر (۴۴۴,۱۹۲ بیلیونه افغانۍ) بودجه وړاندیز شوې چې ۲۸ سلنه د ۱۳۹۲ کال د ۶,۶۹۷ بیلیونه امریکایي ډالرو (۳۴۸,۲ بیلیونه افغانۍ) بودجې په پرتله لوړه ده.

ملي بودجه د دریو سرچینو له لارې تمویلیږي ، ۱. داخلي ، ۲. د ډونرانو مرسته او ۳. پورونه. د مالیې وزارت د ۱۳۹۳ د بودجې د تمویل لپاره ۷,۴۹ بیلیونه امریکایي ډالر (۴۱۹,۵ بیلیونه افغانۍ) هدف ټاکلی ، ۲,۳۷۹ بیلیونه امریکایي ډالر (۱۳۳,۲ بیلیونه افغانۍ)، چې ۳۰ سلنه کیږي له کورنیو عوایدو څخه او ۵,۱۱۳ بیلیونه امریکایي ډالر (۲۸۶,۳ بیلیونه افغانۍ) چې ۶۴ سلنه کیږي د ډونرانو له مرستې څخه. خو لا اوس هم ۴۴۰ میلیونه امریکایي ډالر (۲۴,۷ بیلیونه افغانۍ) د بودجې کسر موجود دی ، کوم چې مجموعی ۶ سلنه کیږي.

که چیرې موږ د ۱۳۹۳ کال د بودجې عمومي جوړښت او ترکیب ته ځیر شو ، د وړاندیز شوې ملي بودجې ۴,۹۲۵ بیلیونه امریکایي ډالر (۲۷۵,۸ بیلیونه افغانۍ) چې ۶۲ سلنه کیږي عادي بودجې ته تخصیص شوې او ۳,۰۰۷ امریکایي ډالر (۱۶۸,۴ بیلیونه افغانۍ) چې ۳۸ سلنه برخه تشکیلوي د پرمختیایي بودجې لپاره ځانګړې شوې. دا په ښکاره ډول دوه توپیرونه په ډاګه کوي ؛ د ۱۳۹۲ مالي کال په پرتله د ۱۳۹۳ کال پرمختیایي بودجه ۱۹ سلنه او عملیاتي بودجه یې ۳۳ سلنه زیاته شوې ده. خو له دې سره سره ، د ۱۳۹۳ د قطعیې له جوړولو او له ۱۳۹۲ څخه و ۱۳۹۳ ته د بسپنو تر لیږد وروسته پرمختیایي بودجه کیدای شي کمه یا زیاته کړای شي.




پورتنی ګراف د ۱۳۹۳ کال ملي بودجه او د هغې د تمویل سرچینه په ډاګه کوي

## الف. تخميني سرچينې

### ۱. کورني عوايد

د مالیې وزارت د کورنيو عوايدو هدف (۱۳۳,۲ بيليونه افغانۍ) خورا پرېکنده دی ، نه يوازې د عوايدو د رامنځ ته کولو له پلوه ، بلکې همدارنګه د هغوي د راټولولو له پلوه هم. د ماليې وزارت به د کورنيو عوايدو ۷۹ سلنه له مالياتو ، ۲۰ سلنه له غير مالياتي سرچينو او يوه سلنه به د شتمنۍ له پلور څخه تر لاسه کوي. د ۱۳۹۳ کال د بودجې لپاره د کورنيو عوايدو هدف تر ټولو ستره اندېښنه ده ، څرنګه چې به د ۱۳۹۲ کال د بودجې کسر هم ۱۳۹۳ ته وليږدول شي ، چې په پايله کې يې کيدای شي حکومت د بودجې د اجرا لپاره د نغدو پيسو له کمښت سره مخ شي ، چې دا به پخپله د ۱۳۹۳ کال د بودجې اجرا اغيزمنه کړي ، د مثال په ډول ، که چيرې وزارتونه وکولای شي د بودجې اجرا چټکه کړي.

د ماليې وزارت د ۱۳۹۲ کال لپاره د کورنيو عوايدو هدف ۲,۳۶ بيليونه امريکايي ډالر (۱۲۳ بيليونه افغانۍ) ټاکلی و ، خو په لومړنيو نهو مياشتو کې د عوايدو راټولونه ډيرې کمه وه ، چې په پايله کې ټاکل شوې هدف ۲,۱۸ بيليونه امريکايي ډالرو (۱۱۴ بيليونه افغانۍ) ته راکښته کړای شو. د ۱۳۹۳ کال د عوايدو هدف يوازې ۸ سلنه زياتوالی پيشبيني کوي که چيرې د ۱۳۹۲ کال له لومړني هدف سره پرتله کړای شي. خو که چيرې د ۱۳۹۲ کال د بيا کتل شوي هدف سره پرتله کړای شي ، ۱۶ سلنه زياتوالی موجود دی ، کوم چې لا اوس هم د پام وړ کم دی. سر بېره پر دې ، زموږ ارزونه دا ښيي ، چې حکومت به و نه توانيږي څو د خپلو عوايدو د راټولونې چارې مشخصې او ټاکل شوی هدف تر لاسه کړي.

***سپارښتنې: د کورنيو عوايدو د اهدافو نه تر لاسه کول د ملي بودجې اعتبار له ګواښ سره مخ کوي. د افغانو د شفافيت او حساب ورکولو ايتلاف په کلکه د دې سپارښتنه کوي ، چې د ماليې وزارت بايد د عوايدو حقيقي اهداف وټاکي؛ د عوايدو په راټولولو کې له فساد سره د مبارزې لپاره جدي ګامونه واخلي؛ او د ماليې وزارت بايد د زياتو عوايدو د پيدا کولو په موخه د امکاناتو په لټه کې شي ، لکه د ساختماني کمپنيو د ثبتونې يو وار فيس او داسې نور. له بل پلوه د کورنيو عايداتو د رامنځته کولو په موخه يو شمير قوانينو مسودې چمتو شوې ، خو لا تر اوسه په پارلمان کې د تصويب لپاره معلقې پاتې دي ، لکه د معدنونو قانون ، د ماليې د زيات شوي ارزښت قانون ، د پيسو له مينځلو سره د مبارزې قانون او د ماليې د ادارې قانون.***

### ۲. د ډونرانو مرسته

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د ډونرانو د تمويل مبلغ ۵,۱۱۲ بيليونه امريکايي ډالر (۲۸۶,۳۰۲ بيليونه افغانۍ) دی ، کوم چې د اصلي بودجې ټولټال ۶۴ سلنه تشکيلوي. په عملياتي بودجه کې د ډونرانو ونډه ۲,۶۸۲ بيليونه امريکايي ډالر (۱۵۰,۲۳۹ بيلونه افغانۍ) ده چې ۵۱ سلنه ده او زياتره د امنيتي سکتور لپاره ځانګړې شوې. په پرمختيايي بودجه کې د ډونرانو ونډه ۲,۴۹ بيليونه امريکايي ډالر (۱۳۶,۰۶۲ بيليونه افغانۍ) ده ، چې د بودجې ۴۹ سلنه تشکيلوي.

که چيرې موږ له ۱۳۹۲ سره د ۱۳۹۳ لپاره د ډونرانو ژمنتوب پرتله کړو کوم چې ۴,۱۴۴ بيليونه امريکايي ډالر (۲۱۵,۵۰۶ بيليونه افغانۍ) و ، موږ د هغوي په تمويل کې نږدې يو بيليون ډالر زياتوالی ملاحظه کوو ، کوم چې ۲۳ سلنه زياتوالی جوړوي او د دغه زياتوالي زياتره برخه د امنيتي سکتور د عادي بودجې لپاره ځانګړې شوې. د امنيتي سکتور تر څنګ ، له امنيتي سکتور پرته په نورو برخو کې هم د پام وړ زياتوالی شتون لري. خو له دې سره سره ، د ډونرانو په مرسته کې د غير امنيتي سکتورونو لپاره د پام وړ زياتوالی نه تر سترګو کيږي ، کوم چې د توکيو د حساب ورکونې د دوه اړخيز چوکاټ له موخو څخه يو ګڼل کيږي.

***سپارښتنې: د بيا کتنې پر مهال ،*** *د افغانو شفافيت او حساب ورکولو ايتلاف* ***د ۱۳۹۲ کال په پرتله په غير امنيتي سکتور کې د بودجې په مرسته کې له زياتوالي څخه خوښ دی. خو دا نه يوازې د امنيتي سکتور د اهميت له پامه غورځولو په مانا نه دی ، بلکې له ټولنيز سکتور سره د لا زيات ملاتړ په يقيني کولو کې د توکيو د حساب ورکونې د دوه اړخيز چوکاټ له شاخصونو سره مرسته کوي.*** *د افغانو*

***شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د دې سپارښتنه کوي ، چې د مالیې وزارت باید د خپلو ولایتي دفترونو په ګډون د اړوند وزارتونو ارزونه ترسره او د هغوي د بودجې د اجرا ظرفیت و ارزوي او د دغه ظرفیت په جوړونه کې له هغوي سره مرسته وکړي. دغه چاره یوازې د مالیې وزارت پر غاړه نه ده ، آی سي هم د روزنې ، څارنې او څارنیز ملاتړ په برابرولو کې برابر رول لوبوي ، څو غوښتونې پایلې تر لاسه شي.***

**ب. د ۱۳۹۳ لپاره اټکل شوي تخصیصونه**

لاندني دویم جدول د ۱۳۹۳ کال د ملي بودجې په سکتور باندې د عادي او پرمختیایي بودجو د وېش انځور وړاندې کوي.

**د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره ټولټال اصلي بودجه**

| نمیره | سکتورونه | په ډالرو (...) | | | ټولټال ٪ | د عادي بودجې سلنه | د پرمختیایي بودجې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عادي بودجه | پرمختیایي بودجه | ټولټال | | | |
| 1 | امنیت | 3,135,400 | 219,464 | 3,354,864 | 42 | 64 | 7 |
| 2 | زیربناوي او ملي سرچینې/منابع | 58,448 | 1,077,812 | 1,136,260 | 14 | 1 | 36 |
| 3 | پوهنه | 636,230 | 386,985 | 1,023,215 | 13 | 13 | 13 |
| 4 | کرنه او کلیوالي پراختیا | 35,018 | 625,237 | 660,255 | 8 | 1 | 21 |
| 5 | روغتیا | 45,093 | 285,016 | 330,110 | 4 | 1 | 9 |
| 6 | ښه حکومتداری | 232,112 | 93,968 | 326,080 | 4 | 5 | 3 |
| 7 | اقتصادي پرمختګ | 49,772 | 153,730 | 203,502 | 3 | 1 | 5 |
| 8 | ټولنیز ملاتړ | 43,978 | 21,689 | 65,667 | 1 | 1 | 1 |
| 9 | د احتیاطی کوډ په ګډون نور کوډونه | 688,060 | 144,000 | 832,060 | 10 | 14 | 5 |
| | **ټولټال** | **4,924,110** | **3,007,901** | **7,932,012** | **100** | **100** | **100** |

لکه څرنګه چې په دویم جدول کې وښودل شول ، امنیتي سکتور د ټولې بودجې ۴۲ سلنه تر لاسه کوي ، چې په تعقیب یې زیربناوې ، لکه د پوهنې ، کرنې او کلیو پراختیا سکتورونه په ترتیب سره ، ۱۴سلنه ، ۱۳ سلنه او ۸ سلنه تر لاسه کوي. له بل پلوه تر عادي او پرمختیایي بودجو لاندې د پوهنې د سکتور تخصیص د ۱۳۹۲ مالي کال په پرتله کم کړای شوي. سربېره پر دې ، د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ مالي کلونو د ملي بودجو د بیا کتنې په اړه اندېښمن دی ، د روغتیا او ټولنیز ملاتړ د سکتورونو لپاره تخصیص لا اوس هم کم دی. نوموړی ایتلاف همدارنګه تر احتیاطي بسپونو لاندې د تخصیص د زیاتوالی په اړه اندېښنه لري.

***سپارښتنه: سره له دې چې د ۱۳۹۳ مالي کال وړاندیز شوې بودجه د روغتیا او ټولنیز ملاتړ د سکتورونو په بودجه کې کوم زیاتوالی نه په ډاګه کوي ، بلکې د تېر کال په پرتله د پوهنې د سکتور بودجه لا پسې کمه کړای شوې. روغتیا او پوهنه دوه هغه بنسټیز خدمتونه دي ، چې د یوه قانونمند حکومت له خوا خپلو اتباعو ته برابرېږي د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف په کلکه د روغتیا ، پوهنې او ټولنیز ملاتړ د سکتورونو په بودجه کې د زیاتوالی سپارښتنه کوي ، چې دا به په ښه ډول سره وکړای شي حکومتداري غښتلې او د حکومت او وګړو ترمنځ واټن را کم کړي.***

**۱. عادي /عملیاتي بودجه**

۴,۹۲۴ بیلیونه امریکایي ډالر (۲۷۵,۷۵۰ بیلیونه افغانۍ) وړاندیز شوې عادي بودجه د ۱۳۹۲ کال د ۳,۹۷۳ بیلیونه امریکایي ډالرو عملیاتي بودجې په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

پورتنی دویم جدول دا ښیي چې د عملیاتي بودجې زیاته برخه (۶۴ سلنه) امنیتي سکتور ته ځي ، احتیاطي بسپنې ، پوهنې او کلیو د پراختیا په تعقیب ، چې هر یو یې په ترتیب سره ۱۴ سلنه ، ۱۳ سلنه او ۵ سلنه تر لاسه کوي. په داسې حال کې چې د پوهنې د سکتور لپاره تخصیص د منلو وړ دی ، خو د روغتیا او ټولنیز ملاتړ سکتورونو ته د ۱۳۹۳ کال تر وړاندیز شوې ملي بودجې لاندې بسیا بودجه په پام کې نه ده نیول شوې.

***سپارښتنه*** د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف ***اندېښمن دی ، چې د ټولنیز ملاتړ د لېږد د وخت په رارسیدو او په بهرنیو مرستو کې له کمښت سره به حکومت د دې جوګه نه وي چې په بشپړ ډول د دغو دوو سکتورونو مسوولیت پر غاړه واخلي.*** د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف ***د روغتیا او ټولنیز ملاتړ د سکتورونو لپاره د لا زیاتو سرچینو د تخصیص سپارښتنه کوي.***

د ۱۳۹۳ مالي کال د بودجې سند په ولایتي کچه د عادي بودجې د تخصیص په اړه هیڅ معلومات نه وړاندې کوي. اړوند وزارتونه ولایتونو ته د عادي بودجې په وېش کې ازاد لاس لري. دا د ولایتي اړتیاوو پر بنسټ په عادلانه ډول د منابعو وېش له جدي اندېښنې سره مخ کوي.

***سپارښتنې: د افغانو شفافیت او حساب ورکولو*** ایتلاف ***د دې سپارښتنه کوي ، چې د مالیې وزارت باید نه یوازې له اړوندو وزارتونو څخه وغواړي چې ولایتونو ته عادي بودجې وېش/ونډه واستوي ، بلکې دا هم ډاډمن کړي ، چې ولایتونو ته ځانګړې شوې عادي بودجه په مناسب ډول مصرف شي.***

**۲. پرمختیایي بودجه**

د ۱۳۹۳ کال لپاره وړاندیز شوې پرمختیایي بودجه ۰۰۷.۳ بیلیونه امریکایي ډالر (۱۶۸,۵ بیلیونه افغانۍ) ده ، کوم چې د ۱۳۹۲ کال د ۲,۷۲۴ بیلیونه امریکایي ډالرو (۱۴۱,۶ بیلیونه افغانۍ) د پرمختیایي بودجې په پرتله ۱۹ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.

څرنګه چې په دویم جدول کې ښودل شوي ، د زیربنا په بودجه کې ۳۶ سلنه زیاتوالی راغلی ، د کرنې ، پوهنې او روغتیا په تعقیب ، چې هر یوه ته یې په ترتیب سره ۲۱ سلنه ، ۱۳ سلنه او ۹ سلنه ځانګړې شوې. له بل پلوه ټولنیز ملاتړ ، ښه حکومتداري ، اقتصادي پرمختګ او امنیتي سکتور ته په ترتیب سره یوازې ۱ سلنه ، ۳ سلنه ، ۵ سلنه او ۷ سلنه بودجه تخصیص شوې.

د امنیتي سکتور په بودجه کې کموالی د اندېښنې وړ نه ده ، کیدای شي د نظامي زیربناوو چټکې جوړونې ته اړتیا نه وي ، نو له همدې امله په ۱۳۹۲ مالي کال کې له پرمختیایي بودجې څخه ځینې لګښتونه د ۱۳۹۳ مالي کال عملیاتي بودجې ته لیږدول شوي. خو له دې سره سره د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د ټولنیز ملاتړ د سکتور د پرمختیایي بودجې د تخصیص په اړه اندېښنه لري.

د مالیې وزارت تر پرمختیایي بودجې لاندې ۱۴۴ میلیونه امریکایي ډالر احتیاطي بسپنو ته ځانګړې کړي ، کوم چې همدارنګه ۳۳ میلیونه امریکایي ډالر د ۱۱ لږ پرمختللو ولایتونو او ۲۳ میلیونه امریکایي ډالر د پاتې نورو ولایتونو لپاره رانغاړي. په داسې حال کې چې د وروسته پاتې ولایتونو لپاره د ۳۳ میلیونه امریکایي ډالرو تخصیص یو ډیر ښه نوښت دی ، چې په دې سره به ولایتونه وکولای شي د خپلو محلي لومړیتوبونو پروژې په خپلو پروګرامونو کې شاملې کړي ، که څه هم د پریکړې نیولو ، تدارکاتو او ګمارنې مرکزي طبیعت کیدای شي په بالقوه ډول د لګښتونو د کمونې په وړاندې ګواښ پېښ کړي.

***سپارښتنه: په داسې حال کې چې ولایتونو ته د منابعو ځانګړي کول یو ښه نوښت دی ، خو بیا هم محلي حکومتداري به تر هغې غښتلې نه شي ، ترڅو چې د مالیې وزارت او نور اړوند وزارتونه په مشخصه کچه د پلان کولو او اجراء صلاحیت ولایتونو ته و نه***

***سپاري. ولایتونو ته د صلاحیت د سپارلو ترځنګ*** د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف ***همدارنګه د دې سپارښتنه کوي ، چې د مالیې وزارت او نور اړوند وزارتونه د څارنې او ارزونې میکانیزمونه جوړ کړي ، څو په محلي کچه د منابعو شفافه او د حساب ورکونې ور اجرا یقیني کړي.***

### د کلیدي شاخصونو پر بنسټ د بودجې بیا کتنه

د دې لپاره چې د بودجې واقعي ارزونه وړاندې شي ، د شفافیت او حساب ورکونې لپاره افغان ایتلاف د بودجې بیا کتنه د مشخصو کلیدي شاخصونه پر بنسټ ترسره کړې. دغه برخه به د دغو حدودو پر بنسټ د شفافیت او حساب ورکونې لپاره د افغان ایتلاف ارزونه برابره کړي.

### الف. د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیز چوکاټ

په ټولیز ډول د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیز چوکاټ هڅه کوي ، چې د پاېښت لرونکې ولسواکۍ ، ښه حکومتداري او اقتصادي ودې لپاره مساعد چاپیریال رامنځ ته کړي. د توکیو په کنفرانس کې ، حکومت د لومړیتوب ملي پروګرامونه د تمویل لپاره وړاندې کړل ، نړیوالې ټولنې هم د غښتلو شاخصونو د ټولګې پر بنسټ د نومړو پروګرامونو د تمویل ژمنه وکړه څو د دوړه اخیزو ژمنو پر اساس پرمختګ وڅاري. د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیز چوکاټ د توافقاتو او هوکړو سره سم ، په دقیق ډول یو کال وروسته د لوړ پوړو چارواکو ناسته د ۲۰۱۳ کال د جولای په میاشت کې په کابل کې ترسره شوه ، څو د دواړو خواوو یعنې ډونرانو او حکومت د ژمنو پرمختګ وڅاري. مدني ټولنې په دواړو د توکیو په کنفرانس او هم د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې فعال ګډون درلود. د توکیو د حساب ورکونې تر دوه اړخیز چوکاټ لاندې د حکومت ژمنې د استازیتوب ولسواکۍ او منصفانه ټاکنو ؛ حکومتداري ؛ د قانون حاکمیت او بشري حقونو ؛ د عامه مالیې او سوداګریزې بانکداري د رښتینولۍ ؛ دولتي عوایدو ، د بودجې اجرا او محلي حکومتداري ؛ او د هر اړخیزې او پاېښت لرونکې ودې او پرمختیا تر عمومي موضوعګانو لاندې راټولې او یو ځای شوې.

په داسې حال کې چې ادعا کیږي ملي بودجه د لومړیتوب د ملي پروګرامونو او د توکیو د حساب ورکونې د دوړه اړخیز چوکاټ پر بنسټ طرح شوې ، خو د بودجې په سند کې د شاخصونو د اهمیت په اړه څه خاصه یادونه نه ده شوې. د بودجې سند همدارنګه د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیز چوکاټ د شاخصونو په څېر د زریزو پرمختیایي موخو د ارزونې او څارنې لپاره هم هیڅ منابع نه دي ځانګړي کړي.

***سپارښتنه: د افغانستان له انتقالي اداري راهیسې ، د افغانستان په اړه یو شمیر کنفرانسونو په هیواد کې د ننه او له هیواد څخه د باندې دایر شوي ، خو د لوړ پوړو چارواکو ناسته د تعقیب لومړنۍ غونډه وه څو د توکیو په کنفرانس کې د ترسره شویو ژمنو په اړه پرمختګ و ارزوي. د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیز چوکاټ د حساب ورکونې لومړني میکانیزم دی ، چې د افغان دولت او نړیوالې ټولنې له خوا جوړ او ور باندې موافقه شوې ده. نو له همدې امله په ټېنګه د دې سپارښتنه کیږي ، چې د مالیې وزارت د لومړیتوب ملي پروګرامونه د حکومتي او ډونرانو د منابعو د تنظیم او دوامداره ارزونې لپاره د یوې وسیلې په توګه وکاروي او اړونده اداړې د توکیو د حساب ورکونې د دوه اړخیز چوکاټ د موخو تطبیق ته وهڅوي او د پرمختګ په اړه راپور ورکړي.***

### ب. له ۲۰۱۴ وروسته مالي پاېښت

د افغانستان په شرایطو کې د مالي پاېښت تر لاسه کول د عملیاتي بودجې د تمویل لپاره د کورنیو عوایدو په څېر تعریف شوی. د ۱۳۹۳ وړاندیز شوې بودجه کې دا څرګنده کړې ، چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۴۷ سلنې په پرتله تر ۱۳۹۵ مالي کال پورې به کورني عواید د عملیاتي بودجې ۶۵ سلنې د تمویل لپاره بسیا وي ، خو د دغه هدف تر لاسه کول تر ډېره برید غیر احتمالي ښکاري څرنګه

چې تجربو ښودلې کیدای شي په بودجه کې ښايي عادي او همدارنګه حیرانونکې زیاتونې موجودې وي. دغه چاره به د دغه هدف تر لاسه کول ، خورا ستونزمن کړي. که چیرې د ملي بودجې ټولټال په پام کې ونیول شي ، دغه واټن له دې هم زیات دی.

د اقتصادي کمزورتیا/سوکه توب ، د ۲۰۱۴ کال د امنیتي لیږد د اغیزې او د زیات فساد له امله د عوایدو راټولونه د پلان شویو هدفونو څخه کمه وه. سر بېره پر دې ، د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې د مشخصو اقدماتو د ترسره کولو پرېکړه شوې وه چې په ټول هیواد کې به د عوایدو او ګمرکاتو په ډیپارټمنټونو کې د بدلونونو د راستولو له لارې د عوایدو د کمښت مخه ونیسي. خو دغه چاره له سیستم څخه د فساد د له منځه وړلو پر ځای په تشریفاتي او معاملې په بڼه ترسره شوه.

***سپارښتنې: د ودې او سیاسي اصلاحاتو له نویو فرصتونو سره د اقتصاد برابرولو لپاره افغانستان په سخت ډول ستراتیژیکو او دوامدارو مرستو ته اړتیا لري. دا هم د یادونې وړ ده چې د ډونرانو په مرسته کې چټک کموالی به په لند او اوږده مهال کې په سخت ډول د اقتصادي بې ثباتۍ لامل شي. د اقتصادي ودې ، بهتره شوې حکومتداري او د مالي پاېښت په لور د پرمختګ کولو په موخه ، د افغانانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف سپارښتنه کوي ، چې افغان حکومت باید په راتلونکو څلورو نکتو تمرکز وکړي:***

- **د طبیعي منابعو د شفافیت او د لګښت موثریت ترویجول او د یوې داسې اوږد مهاله اقتصادي ستراتیژۍ جوړول چې وکولای شي د هیواد مالي اړتیاوو په تمویل تمرکز وکړي.**
- **د افغانانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د هغه څه په اړه اندېښمن دی ، کوم چې د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د کرنې او کلیو پراختیا د سکتور په څېر تعریف کړي. دا نسبتا له کلیو پراختیا څخه د کرنې د بیلولو غوښتنه کوي. په ۱۳۹۳ کې کرنیزو صادراتو په ځانګړې ډول وچې مېوې د نړیوال مارکیټ پاملرنه جذب کړې. دغه چاره له یوه پلوه په بالقوه ډول په افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې د هڅونې لپاره یو غښتلی فکتور ګڼل کیږي او له بل پلوه په هیواد کې صادراتي سوداګیري ترویجوي. نو له همدې امله د افغانانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د کرنیز سکتور د عاید او استخدام د یوې عمده سرچینې په توګه د ترویجولو سپارښتنه کوي.**
- **د افغانانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف په کلکه د دې ورانديز کوي ، چې حکومت باید د لیږد پر مهال پر عاید باندې د اقتصادي سوکه توب د ناوړه اغیزو د کمولو لپاره ګامونه واخلي ، چې په دغو چارو کې د یو شمیر قوانینو تصویب لکه د ارزښت اضافه شوې مالیې (وي ای تی) قانون ، د مالیې د ادارې قانون ، او د فساد او عایداتي اختلاس د څارنې او مبارزې لپاره د یوه ځانګړي اقدام په څېر د مالیې او عوایدو د ریاست اداري اصلاحات ، او د عوایدو او ګمرکاتو په ریاستونو کې د اجراآتو د کمپیوټري کولو له لارې د فساد راکمول شامل دي. سر بېره پر دې ، مهمه نه ده چې څومره مقدار عاید رامنځته شوی ، خو که چیرې په اړوندو ریاستونو کې د ورتیا پر بنسټ ژمن او ریښتیني کارمندان نه وي ګمارل شي ، د عوایدو راټولول او په اړه یې راپور ورکول به هیڅکله په واقعیت نه وي ولاړ. د افغانانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د دې سپارښتنه کوي ، چې د مالیې وزارت باید د عوایدو د زیاتې راټولونې لپاره سیاسي اراده او ژمنتوب ولري ، د عوایدو او ګمرکاتو په ریاست کې یوازې بیا تنظیمول کافي نه دي ، هغوی باید د مسلکي او صادقو افرادو د ګمارنې او د ریاستونو د لا زیاتو اصلاحاتو په یقیني کولو تمرکز وکړي.**
- **د افغانانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف لوړو عاید لرونکو ولایتونو ته په ځانګړې پاملرنې سره ، د عامه عوایدو د څار د یوې میکانیزم د جوړونې سپارښتنه کوي.**

**ج. عامه مالي مدیریت**

د عامه مالي مدیریت اصلاح د لومړیتوب له ملي پروګرامونو څخه یو و. دا د لومړیتوب د ملي پروګرامونو یو لومړنیو هغو څخه و ، چې د همغږۍ او څار ګډ بورډ له خوا وړاندیز شوی و. نه یوازې د حکومت د شریکانو له خوا بلکه د نړیوالې ټولنې له خوا هم په ډېر ښه ډول د دغه پروګرام هرکلی وشو. دا د عامه مالي مدیریت په ډګر کې د ډونرانو له خوا په برابرې شوې تخنیکي مرسته کې د بنسټ د ډېرې په څېر کار کوي. د عامه مالي مدیریت اصلاح پر دریو عمده برخو تمرکز کوي:

- د کلیدي مهمو پایلو په موثر لیږد کې د بودجې پیاوړي کول او د بودجې د اجرا سمول.
- د شفافیت او حساب ورکونې زیاتول.
- د ظرفیت جوړول.

***سپارښتنه: پلان د دریو کلونو (د ۲۰۱۰ منځ- ۲۰۱۳ منځ) لپاره طرح شوې و او زموږ د معلوماتو پر بنسټ کوم بل نوي پلان نشته ، دا ډیره هېښونکې ده.*** د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف ***د عامه مالي مدیریت د دوهم پلان د جوړولو او تطبیق سپارښتنه کوي ، څو ښه حکومتداري او د خدمتونو موثره برابرونه یقیني کړای شي.***

د زر ماتېدونکو دولتونو او کم عاید لرونکي هیوادونو د پایلو په پرتله د عامه لګښت او مالي ارزونې (PEFA) د ارزونو په تړاو د په عام ډول د افغانستان کړنې په غښتلې توګه مثبت دی. د عامه لګښت او مالي ارزونې په زیاترو بعدونو کې افغانستان د زر ماتېدونکو دولتونو او کم عاید لرونکي هیوادونو په پرتله لوړ ګڼل شوی ، او په دوو بعدونو کې د اوسط عاید درلودونکو هیوادونو تر بریده تېر شوي. د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف همدارنګه ملاحظه کړې چې د پېژندل شویو ننګونو سربېره ، افغانستان د پام وړ عامه مالي اصلاحاتو په لور سوق شوی ، د ظرفیت خلاوو ته د رسیدګۍ لپاره ژمن دی ؛ چې د دغو چارو په ترسره کولو له نړیوالو شریکبانو څخه د دوامداره ملاتړ تمه لري.

خو له دې سره سره ، د بودجې اعتبار یو له هغو ساحو څخه دی ، چیرې چې افغانستان د کم عاید لرونکو هیوادونو له اوسط څخه کم ګڼل کیږي. په داسې حال کې چې مالي ډسپلین د دقیقو نغدي تخصیصونو له لارې خوندي کیدای شي ، څو د نغدو پیسو د شتون په حدودو کې ژمنې وساتلای شي ، د بودجې د عوایدو او لګښتونو په مجموعه کې بدلون د مالي ډسپلین موجب نه شي کیدای. سر ببره پر دې ، د دې لپاره چې حکومت خپل د امانتداري مسوولیت پر ځای کړي ، د منل شویو معیارونو په کارونې سره ، بهرني تفتیش باید ترسره شي.

***سپارښتنې: د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د دې سپارښتنه کوي ، چې د عملیاتو او د ساتنې د چارو د لګښت د اغیزو په اړه کره معلومات ، چې له باندنۍ بودجې څخه په درندو لګښتونو پر هغو زیربناوو ترسره کیږي ، کوم چې به د لیږد د پروسې پر مهال د حکومت تر مسوولیت لاندې راشي ، د بودجې د تنظیم او اعتبار لپاره خورا مهم دي. د افغانانو نوموړي ایتلاف په کلکه په دې باور دی ، چې مالي موافقت د بودجې د کارونې لپاره د پالیسۍ د لومړنۍ وسیلې په څیر خورا مهم دی او نه یوازې چې د بودجې له اعتبار بلکې همدارنګه له مالي ډسپلین سره هم مرسته کوي ؛ له اصولو سره د عدم موافقت اوسنۍ کچه د منل شویو اهدافو په لور د کارمندانو د عملیاتو د سوق کولو ظرفیت کمزوری کوي.***

***حکومتي ادارې ، د ولایتي بودجوي ایجنسیانو او د کابل ښاروالی په ګډون د حکومت د کنترول او تفتیش د دفتر له خوا تفتیش کیږي ، چې یوازې د موافقت پر بعد باندې تمرکز کوي. نو له همدې امله*** د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف ***د دې سپارښتنه کوي ، چې د حکومتي وروستیو حساباتو تفتیش باید د یوه بهرني مفتش له خوا ترسره*** شي.

**د. ولایتي بودجه جوړونه**

په افغانستان کې د بودجې د چمتو کولو بهیر په لوړه کچه مرکزي دی. د بودجې تخصیصي وجهې له وزارت/ایجنسي ، د جنس د کوډ او پروژې له خوا چمتو کیږي ، خو د ولایتونو د بودجې ولایتي تفکیک په پام کې نه نیول کیږي. په اړوندو وزارتونو کې داسې کوم میکانیزم نشته چې د بودجې خپل ولایتي تخصیصونه جوړ او/یا توجیه کړي. سربیره پر دې ، ولایتي ریاستونه د بودجې په چمتو کولو کې ښکېل نه دي نه هم د ولایتونو لپاره د بودجې له وروستي تخصیص څخه خبر دي او حکومت هم د بودجې په چمتو کولو او د هغې د اجراء په پروسو کې د مرکزي ادارې او د هغوي د ولایتي ریاستونو د نقش او مسوولیتونو د تشخیصولو لپاره

څرګند قانوني چوکاټ نه لري. اړوند وزارتونه د احصایي معلوماتو ، له ولایتي چارواکو سره د شخصي اړیکو ، د هر ولایت د پارلمان د غړي او په ملي او محلي کچو د اړوندو ولایتي با نفوذه او پیاوړو چارواکو د نفوذ پر بنسټ ولایتي تخصیصونه وضع کوي. د مالیې وزارت د عامه مالي مدیریت د یوه موثر سیستم د غوښتنو سره د ولایتي بودجې په جوړونه کې غښتلی او اغیزناک رول لوبولای شي.

د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیز چوکاټ د بودجې په پلان کولو او اجرا کې د ولایتونو پیاوړي نقش شرط بولي ، که څه هم د ملي سلا مشورو ناستې چې د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف [1] له خوا تنظیم شوې وې په ډاګه کوي ، چې ولایتونه د بودجې په جوړولو ، اجرا او څارنه کې نه دي ښکېل. په داسې حال کې چې له یوه پلوه د توکیو د حساب ورکونې دوه اړخیز چوکاټ د ولایتي شوراګانو د غړو پر پیاوړي نقش ټینګار کوي ، له بل پلوه د افغانستان پارلمان د وظایفو له لایحې څخه د ولایتي شوراګانو د غړو د څارنې د جنبې پر لرې کولو زور اچوي. دا د جدي ګواښ او په بالقوه ډول د سرچینو د ناسم کنترول لامل کیږي.

***سپارښتنې: د ۱۳۹۲ مالي کال لپاره د مالیې وزارت یو له ستایل شویو هڅو څخه د ولایتي بودجې جوړونې د پالیسي طرح کول و. دغه پالیسي په متداول قانوني چوکاټ کې ولایتي ادارو ته د مالي غیر مرکزي کولو د یوې عمدې وسیلې په څیر کارول شوې. د جوړې شوې او تصویب شوې ولایتي بودجې جوړونې نوې پالیسي یوه تر ټولو مثبته بنه دا ده ، چې له ټولنې سره یو ځای د بودجې د اجرا د څارنې چاره ترسره کړي. د افغانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د افغان مدني ټولنې او د مالیې وزارت تر منځ د همغږۍ د ګډ چوکاټ جوړونې وړاندیز کوي ، چیرې چې به مدني ټولنه په محلي کچه د دغې پالیسۍ د تطبیق په اړه د پرمختګ څارنه کوي.***

**هـ. د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه**

د دې لپاره چې د وزارتونو سرچینې د هغوي له ستراتیژیکو موخو او د پالیسي له لومړیتوبونو سره په سم ډول تنظیم او اړوند وزارتونه د تر لاسه شوې بودجې په وړاندې د هغوي د کړنو لپاره حساب ورکوونکي وګرځول شي ، د مالیې وزارت په ۱۳۸۵ کې د نړیوال پولي صندوق او نړیوال بانک له سپارښتنو سره سم پریکړه وکړه ، چې په افغانستان کې د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه و ازمایي.

څرنګه چې د پروګرام پر بنسټ بودجه جوړونه د بودجې جوړونې یوه نوې کړنلار وه ، د مالیې په وزارت او نورو اړوندو وزارتونو کې د ظرفیت جوړونې لپاره زیات زیار ته اړتیا وه ، د هغه تطبیق په مختلفو پړاونو کې پلان شو. له دریو ازمایښتي وزارتونو سره د لومړني پړاو پایله یو له بل څخه مختلفه وه ، چې د مشرتابه په سیاسي ارادې ، او د هر ازمایښتي وزارت په تخنیکي ظرفیت پورې یې اړه درلوده. دغه بهیر خورا په چټک ډول ټولو وزارتونو ته وغځول شو ، که څه لا اوس هم یو شمیر ننګونې لري. که څه هم وزارتونه د هغوي د پروګرامونو په اساس د مالیې وزارت ته خپلې بودجې وړاندې کوي ، خو د مالیې وزارت له اوس هم کابینې او پارلمان ته ملي بودجه د موجوده اقلامو په اساس سپاري نه د پروګرامونو پر بنسټ. زیاتره وزارتونه لا اوس هم د عادي او پرمختیایي بودجو د پلان او اجرا کولو دوه جدا جدا مسوول ریاستونه لري. یو وزارت هم اړونده ریاستونو ته د بودجې د پلان کولو او اجرا صلاحیت نه دی سپارلی ، څو وکولای شي خپلې بودجې پلان او اجرا کړي. که څه هم د مالیې وزارت له خوا لارښوونه او مرسته شوې ، چې خپله بودجه د پروګرامونو پر بنسټ جوړه کړي ، خو هغوي ته دا لارښوونه او مرسته نه ده شوې ، څو خپله بودجه د پروګرامونو په اساس تطبیق کړي.

***سپارښتنې:*** *د افغانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف* ***سپارښتنه کوي ، چې د مالیې وزارت باید د پروګرام له مخې د بودجې جوړونې تندي وساتي ، ۱) د هغوي د پروګرامونو پر بنسټ اړوندو وزارتونو ته نه یوازې د بودجې د چمتو کولو بلکې د هغې د اجراء اړوند د دوامدار ملاتړ برابرولو له لارې ، ۲) د مالیې وزیر باید له وزیرانو سره بین الوزارتي منظمې ناستې ترسره کړي ، څو د هغوي***

[1] د شفافیت او حساب ورکونې لپاره افغان ایتلاف- د روغتیا او پوهنې له سکتورونو سره د افغانستان په ۷ ولایتونو کې ملي سلا مشورې، ۲۰۱۳.

***په وزارتونو کې د پروګرام په اساس د بودجې جوړونې اړوند د ترسره شوي پرمختګ په اړه خبرې اترې وکړي ، ۳) د اړوندو وزارتونو تخنیکي کارمندانو ته د دومداره روزنې او ظرفیت جوړونې د پروګرامونو برابرول ، د پروګرام په اساس د بودجې جوړونې د فعالیت څارل او د لا زیاتې اصلاح لپاره هڅوي ته بیرته ځواب ورکول. سربیره پر دې ، د مالیې وزارت د افغانستان د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو د خپلواک کمیسیون په همغږۍ ، ټولو اړوندو وزارتونو ته د پرمختیایي او عادي بودجو په چمتو کولو کې د مالي/اداري او پلان ریاستونو ترمنځ د دندو او مسوولیتونو د وېش په اړه لارښوونه کوي. د مالیې وزارت همدارنګه هڅول کیږي ، چې له اړوندو وزارتونو او مدني ټولنې سره په سلا مشوره د پروګرام پر بنسټ د بودجې جوړونې پالیسي تیاره او د کابینې تایید تر لاسه کړي ، څو دغه بهیر قانوني کړای شي.***

**و. د جنډر د غوښتنو سره سم بودجه جوړول**

د لومړیتوب په ټولو ملي پروګرامونو کې جنډر یوه هر اړخیزه موضوع ده. حکومت تر مختلفو ملي پالیسي ګانو او نړیوال تړونونو لاندې ځان د جنډر برابرۍ ته ژمن بولي لکه د افغانستان اساسي قانون ؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون ؛ د افغانستان زیرزې پرمختیایي موخې ؛ د افغانستان د ښځو لپاره د افغانستان تړون او د عمل ملي پلان. د دې لپاره چې د پورتنیو ژمنو دغه اهداف او موخې تر لاسه شي ، د جنډر د غوښتنو سره سم د بودجې جوړول تر ټولو مناسبه وسیله ده. د جنډر د غوښتنو سره سم د بودجې جوړول د سرچینو د تخصیصونې او تنظیم داسې بهیر دی ، په کوم کې چې د جنډر د مختلفو ګروپونو اړتیاوې په پام کې نیول کیږي او د ښځو له حقونو سره مرسته کیږي.

د جنډر د غوښتنو سره سم د بودجې جوړول یو له هغو کلیدي اصلاحاتو څخه دي ، چې د مالیې وزارت په دې وروستیو کلونو کې ترسره کړي. دغه چاره د ۱۳۹۰ کال په بودجه کې په څلورو ازمایښتي وزارتونو (د عامې روغتیا ، پوهنې ، لوړو زده کړو او کار ، ټولنیزو چارو ، شهیدانو او معلولینو) کې پیل شوه ، چې اوس شپږو وزارتونو ته غځول شوې ، د کرنې ، اوبه لګولو او مالداري او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارتونو په ګډون.

***سپارښتنې: د مالیې وزارت د جنډر د غوښتنو سره سم د بودجې جوړونې پالیسي جوړه کړې ، کومه چې اړوندو وزارتونو ته تخنیکي لارښوونه برابروي ؛ خو د دغې پالیسۍ د بریالي تطبیق لپاره ، د مالیې وزارت له اړوندو وزارتونو ، د پارلمان او مدني ټولنې د ښځو او بودجې له کمیټو سره په سلا مشوره باید هغه پیاوړې او لا پسې وغځوي. د مالیې وزارت باید دا یقیني کړي چې د بودجې جوړونې او مالي تنظیم سیستمونه ددې وړتیا لري چې د اړوندو وزارتونو د جنډر لپاره جلا شوې بودجه او لګښت تعقیب کړي ، او دومداره حمایتي روزنه او لارښونه برابره کړي. د جنډر له غوښتنو سره سم د بودجې جوړول یو داسې میکانیزم دی ، چې نه یوازې افغانستان بلکې یو زیات شمیر پاتې هیوادونه د هغه په تطبیق کې له ننګونو سره مخ دي ، د افغانستان د مالیې وزارت د دغو پاتو هیوادونو اتل جوړیدای شي ، خو که چیرې سیاسي اراده موجوده وي ، ځکه چې افغانستان د نورو هیوادونو په خلاف د جنډر مسیریابي لپاره د ډونرانو پراخې مرستې تر لاسه کوي.***

**ز. د بودجې پرانستی شاخص په اړه د افغانستان دریځ**

د بودجې د ۲۰۱۲ کال ازادې سروې د افغانستان د بودجې په پروسه کې د عامو خلکو ګډون ارزولې او دا یې په ډاګه کړې ، چې افغان حکومت د بودجې په پروسه کې د ښکېلتیا محدود شوي امکانات برابروي. د افغانستان د بودجې د پرانستې شاخص/انډکس درجه په ۲۰۱۰ کې له ۲۱ څخه ۵۹ ته په ۲۰۱۲ کې لوړه شوې ، چې ۳۸ نومرو پرمختګ په ډاګه کوي. دغه پرمختګ د حکومت د هغې پریکړې په پایله کې رامنځ ته شوي ، چې د بودجې د مخکینۍ اعلامیې ، د اجرایي بودجې وړاندیز او د اتباعو د بودجې په ګډون د بودجې اړوند هغه معلومات چې پخوا به نه خپریدل ، خپره کړي. د دغې سروې له پایلې سره سم، په ۲۰۱۲ کې افغانستان د جنوب ختیځې اسیا په هیوادونو کې تر ټولو زیاتې نومرې تر لاسه کړې ، چې یوازې هندوستان د ۶۸ نومرو په لرلو سره له افغانستان څخه مخکې ده. افغانستان د پاکستان ، سریلانکا او بنګلادیش له هیوادونو څخه مخکې دی.

***سپارښتنې: د ستاینې وړ پرمختګ سره سره ، لا اوس هم د بودجې د ټرانسپېرنسي نوښت په درجه کې د بهبود لپاره زیات فرصتونه شته ، څو د عامه بسپنو شفافیت زیات کړای شي. د مالیې وزارت باید: ۱) د بودجې د ټرانسپېرنسي شاخص اړوند سندونه خپره کړي ، لکه شپږ میاشتنۍ بیا کتنه او د تفتیش راپور ، ۲) د اجرایي بودجې د وراندیز هر اړخیز توب زیات کړي ، په ځانګړي ډول د دغو ساحو په اړه د معلوماتو پر برابرولو ټینګار: د بودجوي کال لپاره غیر مالیاتي عواید ، مالي او غیر مالي شتمنۍ ، مصرفیاتي باقیداري ، احتمالي او راتلونکي زیانونه ، د ډونرانو مرسته او مالیاتي لګښتونه. د مالیې وزارت باید دا یقیني کړي چې د بودجې د شفافیت په اړه تندی/سرعت نه دی بایلل شوی. څرنګه چې د بودجې ټرانسپېرنسي شاخص د بودجې د اسنادو په شفافیت او د معلوماتو له شریکولو سره تړاو لري.***

**د افغانو د شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د هغو قوانینو په اړه د معلوماتو د لاس رسي د تایید سپارښتنه کوي ، چې د تصویب لپاره په پارلمان کې معلق پاتې دي.**

## د کلیدي ونډوالو رول

### الف. د مالیې وزارت

د مالیې وزارت په ټولیز ډول او د هر بودجوي واحد/ اړوند وزارت لپاره کلني کورنی عواید او د ملي بودجې عمومي ټولټال تنظیموي ، د متحد المال لیکونه تیاروي ، وزارتونو ته د هغوي د بودجې جوړونې په اړه لارښوونه کوي ، د وزارتونو اړوندو کارمندانو لپاره روزنیز ورکشاپونه دایروي ، له ټولو وزارتونو سره د استماعیه غونډو کوربه توب کوي ، د هغوي بودجې مطالعه او ارزوي ، د څیړنې او تصویب لپاره بودجه کابینې او پارلمان ته لیږدوي. د مالیې وزارت له اړوندو وزارتونو سره د پلان پر بنسټ د هغوي د بودجې په اجرا کې مرسته او لارښوونه کوي. وزارتونه او د هغوي د ولایتي ریاستونه (مستوفیت) د هرې میاشتې په پای کې نوموړي وزارت ته مالي راپور سپاري ، چې د ملي بودجې د نهایي حساب قطعیه د چمتو کولو لامل کیږي کوم چې یو ځل بیا باید د کابینې او پارلمان خوا تایید شي.

د مالیې وزارت د بودجې په تیارولو او اجرا کې کلیدي رول لوبوي او باید له یو شمیر ونډوالو سره راکړه ورکړ ترسره کړي ، څو د بودجې د بریالي چمتوالی او تطبیق په بهیر کې د هغوي فعال ګډون یقیني کړي. راتلونکي هغه ستر ونډوال دي چې د مالیې وزارت اړ دي له هغوي سره کار ترسره او د ملاتړ او همغږي ډاډ یې حاصل کړي.

### ب. داخلي ونډوال

بودجوي واحدونه/اړوند وزارتونه: بودجوي واحدونه/اړوند وزارتونه باید د مالیې وزارت د بودجې په اړه د متحد المال لیکونو پر بنسټ عادي او پرمختیایي بودجې جوړې او اجرا کړي. دوي باید په عادلانه ډول د ټولو ولایتونو ترمنځ بودجه وویشي ، ولایتونو ته بودجه واستوي ، هغوي ته د بودجې د لګښت په اړه لارښوونه او روزنه برابره کړي ، له هغوي څخه میاشتني راپورونه تر لاسه او د مالیې وزارت ته یې واستوي. د مالیې وزارت باید اړوندو وزارتونو ته د هغوي د کلي بودجې د تیارولو او تطبیق په اړه لارښوونه او مرسته وکړي او بیا دغه ملاتړ او لارښوونه د هغوي له ولایتي ریاستونو سره هم ترسره کړي.

د بودجې له کتنې مخکې ، د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف د بودجې تیارولو او تطبیق په اړه له مدني ټولنې او دریو وزارتونو سره مشورتي ناستي ترسره کړې. دا په ډاګه شوه چې اړوند وزارتونه د لوي څارنوال له دفتر او د کنترول او تفتیش له دفتر سره جدي ستونزې لري. د یو شمیر په وینا ، هغه دولتي اداري چې باید له فساد سره مبارزه وکړي ، پخپله د فساد مرکزونه ګرځېدلي. سر بېره پر دې ، د مالیې وزارت په ټولو بودجوي واحدونو/ اړوندو وزارتونو کې مالي کنترولران لري ، څوک چې نه یوازې د تادیاتو

غوښتنلیکونه کنترول او څارې بلکې همدارنګه د تدارکاتو ، قرارداد کولو ، د موجودې د لیست او تولې نورې اړونده پروسې تر څار لاندې نیسي ، کوم چې دغه چاره تر زیاتې کچې لا پسې بیوروکراتیکه کړې. له بل پلوه کله چې د تادیې غوښتنلیک له لاسلیک او ټاپه کولو وروسته د مالیې وزارت ته د پروسس کولو لپاره ولیږدول شي ، معمولا د غیر موافقتي دلیلونو له امله مسترد کیږي. د دغو وزارتونو پوښتنه اوس دا ده ، چې آیا دغه کنترولران د حل او که د ستونزې برخې دي ، او د بودجې د اجرا په ټول بهیر کې د دوي ګټه څه ده ؟

***سپارښتنې: پورته یادې شوې ټولې اندېښنې او مسلې د ټولو وزارتونو له خوا مطرح شوي ، ولې هیڅ وزارت نه شي کولای دغه مسلې په یوازې په جدي ډول راپورته یا یې په سم ډول حل کړي. نو له همدې امله د مالیې وزارت ته د بودجې جوړولو او تطبیقولو لپاره د یوازینې مسوولې ادارې په ځیر په ټینګه سپارښتنه کیږي چې له ټولو وزارتونو سره غونډه ترسره او د هغوي د بودجې د تیارولو او اجراء د ستو ننګونو په اړه خبرې اترې ترسره کړي ، په ورته وخت کې د مالیې وزارت هم باید د بودجې د اجرا چارې اصلاح کړي.***

د بودجې کمېټه: د بودجې کمېټه د کابینې فرعي کمېټه ده چې د مالیې وزارت (مشر)، اقتصاد وزارت ، باندنیو چارو وزارت او د ولسمشر له خوا د ګمارل شوې څلورمې ایجنسي څخه تشکېل شوې. دغه کمېټه د بودجې د قانون سره سمه جوړه شوې ، څو د ملي بودجې د څارنې چارې ډاډمنې کړي.

په تېرو څو کلونو کې د ښځو د چارو وزارت څلورم غړې و ، څو دا یقیني کړي چې په ملي بودجه کې د جنډر مسلو ته په مناسب ډول رسیدګي شوې ده. د دې کمېټې مسوولیت دا دي ، چې د اړوندو وزارتونو د بودجو استماعیه/مباحثو ناستې ترسره او کابینې ته نهایي بودجه د بیا کتنې او تصویب لپاره واستوي. په داسې حال کې چې دا د بودجې د څار د یقیني کولو یو مهم میکانیزم دی او سکتورونو ته د منابعو د منصفانه وېش ډاډ تر لاسه کوي ، د مدني ټولنې او پارلمان په څېر نور ونډوال شته څوک چې کولای شي د ناظرانو په څېر د بودجې په استماعیه ناستو کې مهم رول ولوبوي. نو له همدې امله په ټېنګه د دې غوښتنه کیږي ، چې د مالیې وزارت د مدني ټولنې او د پارلمان د بودجې د کمېټې استازي د ناظرانو په څېر د بودجې په استماعیه/مباحثې غونډه کې راوبلي ، څو د دغه بهیر لا زیات شفافیت او حساب ورکونه یقیني کړای شي.

**ج. باندني ونډوال**

**اتباع او مدني ټولنه:** د افغانستان د عامه مالي مدیریت د قانوني چوکاټ پر بنسټ مدني ټولنه د بودجې د جوړولو په بهیر کې په څرګند ډول تعریف شوي رول نه لري. نه د مالیې وزارت او نه هم پارلمان د بودجې د جوړولو په بهیر کې له مدني ټولنې سره سلا مشوره ترسره کوي سره له دې چې د څو کلونو راهیسې د مالیې وزارت له مدني ټولنې سره له بودجې وروسته د ورکشاپونو دایرول پیل کړي دي. د اتباعو او مدني ټولنې لپاره د معلوماتو د شریکولو مناسب او منظم میکانیزم نه دی موجود.

***سپارښتنې: د حکومت او خلکو ترمنځ د واټن په راکمولو او د خلکو د اړتیاوو په څرګندولو کې مدني ټولنه مهم رول لوبوي. حکومت او هم مدني ټولنه اتباعو ته په خدمت کولو کې ځانګړې نقشونه لري ، نو له همدې امله دا مهمه ده ، چې یو پر بل نېوکه کولو او د یو بل د کمزورتیاوو د ښکاره کولو پر ځای ، دواړه سره یو ځای او په ګډه د خلکو لپاره کار ترسره کړي. په کلکه د دې سپارښتنه کیږي ، چې د مالیې وزارت د مدني ټولنې له هغو سازمانونو سره چې د ملي او محلي حکومتدارۍ په ډګر کې کار کوي ، د همغږۍ چوکاټ طرح او تصویب کړي کوم چې به دواړه خواوې د معلوماتو شریکولو ، منظمو مشورتي ناستو ، په مرکز او ولایتونو کې له بودجې مخکې او وروسته د ورکشاپونو دایرولو ته اړ کړي ، مدني ټولنې ته به دا فرصت ورکړي چې د بودجې د تیارولو او اجرا بهیرونه وڅاري او په اړه یې راپور ورکړي ، او له پارلمان سره د بودجې په څېړنه او تصویب کې مرسته ترسره کړي.***

پارلمان: د بودجې د قانون ۴۳ ، ۹۰ ، ۹۱ ، ۹۷ او ۹۸ مادې پارلمان ته قانوني صلاحیت ورکوي ، چې ملي بودجه ، پوروته ، پرمختیایي پروګرامونه ، د تیر کال د بودجې نهایي حسابونه ، د مالي کال پر مهال چې د عوایدو او لګښتونو په ټولټال کې کوم

بدلونونه رامنځ ته کیږي تصویب یا رد کړي. د بودجې د کره کتنې او تصویب پر مهال ، پارلمان باید یقیني کړي چې هغه د اتباعو اړتیاوو ته ځواب ویونکې ده ، په عادلانه ډول اړوندو وزارتونو/بودجوي واحدونو او ولایتونو ته وېشل شوې ، د ملي پروګرامونو او لومړیتوبونو سره سمه تنظیم شوې او متوازن پرمختګ او استخدام یقیني کوي. د اساسي قانون او د عامه مالي مدیرت د قانوني چوکاټ سره سم پارلمان صلاحیت لري چې بودجه د پارلمان په نظارتي دوره کې مطالعه کړي ، د افغانستان د ملي اسامبلې دواړه خونې د بودجې تیارونه ، اجرا ، له قانوني تصویب پرته بیا تخصیصونه ، د عامه مالي صورت حسابونو او بانکي حسابونو مطالعه ، مالي حساب ورکونه او د پېسو ارزښت او د حکومتي پروژو اغېزمنتوب مطالعه او څېړي. په نړیواله کچه د بودجې د مسودې د بدلولو لپاره درې ډوله تعدیلي صلاحیت شتون لري ، ۱) د بودجه مسوده تایید یا ردول ، ۲) تر کومه چې ټوله یا د بودجې کسر موجود وي د تعدیل صلاحیت او ۳) د نا محدود صلاحیت کارونه. د افغانستان د پارلمان صلاحیت یوازې د بودجې د مسودې منل یا ردول دي کوم چې د مقننه قوې تر ټولو کمزورې بنه ده ، او ویلای شو ، چې د افغانستان پارلمان د بودجې د مسودې د تعدیل صلاحیت نه لري. که څه هم هغوی په رسمي ډول د بودجې د ردولو له لارې د منابعو پر وېش عملي نفوذ لري او بیا د مالیې وزارت ته په غیر رسمي ډول سپارښتنې استوي ، چې دا پخپله د فساد او په نا عادلانه ډول د منابعو وېش ته لار هواروي ، په ځانګړي ډول کله چې زیاتره د پارلمان غړي د خپلو انتخاباتي حوزو او ټولنو لپاره یوازې پر کوچنیو پروژو ټینګار کوي.

***سپارښتنې: پارلمان ته د تر ټولو کمزوري قانوني صلاحیت ورکول نه یوازې د بودجې مباحثې بې اثره او د افغانستان د ستر اقتصاد او ټولنیزو ګټو ته د نه پاملرنې لامل کیږي ، بلکې د چټک فساد او د ډېرو کوچنیو پروژو په کچه د شخصي راکړې ورکړې لپاره لار هواروي. د پارلمان غړي باید د بودجې کره کتنه د افغانستان د ستر اقتصاد د ګټې پر بنسټ ترسره او د محلي کوچنۍ کچې پروژو پر ځای د سکتورونو او ولایتي وېش ته لا زیاته پاملرنه وکړي. پارلمان او مدني ټولنه باید د بودجې د اجرا د څارنې لپاره سره یو ځای شي او په ولایتي کچه پروژې وڅاري او دولتي ادارو له خوا شفافه او موثره خدمت برابرونه یقیني کړي.***

**پایله**

د حکومت د اقتصادي پالیسي ګانو د تطبیق لپاره بودجه کلیدي وسیله ده. په تیره لسیزه کې ، په افغانستان کې بودجې جوړونې د پام وړ وده کړې او د بودجې تیارول ، تطبیق او څارل ډیر زیات غښتلي شوي. همدارنګه د عامه مالي مدیریت ظرفیتونه په حکومت کې په عام ډول او د مالیې په وزارت کې په ځانګړي ډول ډیر پیاوړي شوي او د تېر په پرتله اوس د بودجې چمتو کول لا زیات دقیق او منظم دي. په پای کې بودجوي شفافیت هم د پام وړ اصلاح شوی. دغه پرمختګونه نه یوازې د حکومت او مالیې وزارت لپاره بلکې د مدني ټولنې او ټولو وګړو لپاره د ښې راتلونکې هیله ورکوي.

د افغانستان اوسنیو واقعیتونو ته په کتلو سره ، د ۱۳۹۳ مالي کال د بودجې وړاندیز یو ښه وړاندیز دی او په زیاترو حالاتو کې د ملي ، ولایتي او محلي لومړیتوبونو انعکاس دی. د مالي سرچینو کموالی په ځانګړي ډول د احتیاطي هغو ، د هیواد په پرمختیایي چارو کې یو تر ټولو ستر خنډ دی. په عوایدو او ګمرکاتو کې سیستماتیکو اصلاحاتو ته اړتیا ده څو حکومت پخپلو پښو ودریږي. ۱۳۹۳ مالي کال یو اسان کال نه دی ، ولسمشریزې او د ولایتي شوراګانو ټاکنې او له هیواد څخه د نړیوالو امنیتي ځواکونو بشپړ وتل د بودجې تطبیق او د عوایدو سمبالونه کیدای شي له ګواښونو سره مخ کړي.

د افغانو شفافیت او حساب ورکولو ایتلاف  په دې باور دی ، چې د مدني ټولنې ګډون او ښکېلتیا باید تر ډیرې اندازې پیاوړې او زیاته کړای شي. د دې لپاره چې د مدني ټولنې ګډون او ښکېلتیا لا زیاته موثره او ګټوره وي ، دغه چارې باید په حقوقي او قانوني ډول تایید شي ، چې له دې پرته ښایې هیڅ ډول ارزښت او ګټه و نه لري.